AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش نویسندهٔ مطلب میباشد

آصف بهاند ۲۰۱۵/۱۲/۲۴

# د باران سیوری

ستا خو یادیږي که نه!
هماغه ورځ پسرلنی باران و
هماغه ورځ مازدیګر شرقنده باران وریده
د باران «ورا» وه راروانه له آسمانه ځني
چې زه را پیښ شوم ورسره د تاسو کلي باندې
ته لکه سروَ وې روانه د ګودر پر لوري
ما د آسمان تبی ته پاس وکتل
وریځې شوې ماتې
لکه مات مینان
د لمر زرینو وړانګو وځیرلې
او له یو بل نه سره لرې شولې
خو باران ځاځکی ځاځکی
و، راروان لکه یو وړی ګډا
او ستا د مخ د یوې مچې
په خیرات پسې ی عذرونه کول
ما و تا یو بل ته په سکوت کې کتل
زما و ستا سترګو
نه څه ویل، نه کتل
خو په ګونګی ژبه یې
یوه او بل ته مسیژونه لیږل
له مسیژونو وړاندې
چې مې نا ځا په ستا بارخو باندې یو څه ولیدل:
ما ستا د مخ په آیینه کې
د باران د ځاځکو سیورى ولید.

د ۲۰۱۳ کال د جون یو ویشتمه
د ډنمارک غنس نومی ښار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ